# د افغانستان
# د بشردوستانه وضعیت دربیم راپور
# د 2022 کال د فبرورۍ له 1 تر 28 نېټې

## مهم ټکي:

- یونیسف اټکلاً 194,000 تنو دولتي ښوونکو ته د بېړنیو نغدي مرستو وېش پیل کړ او په فبروري میاشت کې 113,868 ښوونکي تر پوښښ لاندې ونیول شول.
- یونیسف اټکل کوي چې په 2022 کال به د ټول افغانستان په کچه 2.3 میلیونه ماشومان په شدیده خوارځواکۍ اخته شي او که چټکې بېړنۍ ګامونه پورته نه شي یومیلیون تنه ماشومان چې په شدیده خوارځواکۍ اخته دي د مړینې له خطر سره مخ شي.
- د راپور ورکولو د دغې دورې پرمهال، د شاوخوا یومیلیون تنو ماشومانو له معاینې وروسته، له 31,000 څخه ډېر په شدیده خوارځواکۍ (SAM) اخته ماشومانو درملنه شوې.
- روان کال په شري یا سرخکانو د اخته کېدلو کچه شدیداً لوړه شوې او له 13,400 څخه ډېرې پېښې ثبت شوې؛ په دې سره د 2021 کال له جنورۍ راهیسې د ټولو پېښو شمېر 43,988 ته رسېدلې(د دغو پېښو 80 سلنه تر پنځو کالو کوچني ماشومان کې وې). یونیسف له خپلو شریکانو سره ګډ کار کوي ترڅو د چټک غبرګون په توګه د شري ضد کمپاین پیل کړي.
- د هغو 1,435 بې سرپرسته او له کورنۍ څخه جلا شویو ماشومانو په ګډون له 99,580 څخه ډېرو کسانو د یونیسف په ملاتړ د ژوند ژغورنې ساتندویه خدمتونه ترلاسه کړي چې له دې ورانديې یې د کورنۍ لټون او بیا ځل یوځای کېدلو له خدمتونو ګټه اخیسته.

## وضعیت ته لنډه کتنه او بشري اړتیاوې

په داسې حال کې چې د یونیسف له اټکل سره سم له 24.4 میلیون څخه ډېر افغانان بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري، د غذايي خوندیتوب د جامع پړاویزې ډلبندۍ(IPC) له راپور ښکاري چې د افغانستان له نیمايي څخه زیات نفوس(22.8 میلیون تنه) له شدید خوراکي نا خوندیتوب سره مخامخ دي. یونیسف اټکل کوي چې په 2022 کال 3.2 میلیون تنه ماشومان په افغانتسان کې په شدیده خوارځواکۍ اخته دي او که چټکې بېړنۍ ګامونه پورته نه شي، له ډلې به یې په شدیده خوارځواکۍ اخته یومیلیون تنه ماشومان د مرګ له خطر سره مخامخ شي. د تغذیې وضعیت به د شري یا سرخکانو په زیاتېدو سره لا پسې خراب شي. د 2021 کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د 2022 کال د فبرورۍ تر 26 پورې د ټول افغانستان په کچه د شري یا سرخکانو 43,988 پېښې ثبت شوې او له امله یې 232 تنو ژوند له لاسه ورکړی، هلمند، کندهار، بلخ، پکتیکا، غور او غزنې ولایتونه تر نورو ډېر زیانمن شوي دي[1]. د ثبت شویو پېښو له ډلې، 80 سلنه یې تر پنځو کالو کوچنیو ماشومانو کې وې. یونیسف د دغه وضعیت پر وړاندې د غبرګون په توګه په 49 ګڼ پېښو ولسوالیو کې د شري له کمپاین څخه ملاتړ کوي، دغه کمپاین د مارچ میاشتې لپاره په پلان کې نیول شوی. د شدید نس ناستې یا کولرا(AWD) د 74 پېښو په ګډون د نورو عفوني ناروغیو راپورونه هم ورکړل شوي او ښايي دغه پېښې د هوا په تودېدلو او پاکو اوبو ته د لاسرسي له نه شتون سره نورې هم زیاتې شي. اوسمهال د افغانستان د ټول نفوس له دربیو څخه دوه برخې د خپلو کورنیو د تغذیې لپاره د بحران په اوږدو کې مقابله یې ستراتیژیو ته مخه کړې. کولای شو ووایو چې د دغو کورنیو کچه د 2021 کال د ډسمبر میاشتې په پرتله اته سلنه زیاتوالی او د اګیست میاشتې په پرتله شپږ ځله زیاتوالی ښیي. نیږدې 100 سلنه ښځینه سرپرستي کورنۍ د خوراکي موادو له کمښت سره مخامخ دي[2]. په کابل کې د غنمو اوړو بیه د 2022 کال د فبررورۍ په لومړیو کې د تېرو پنځو کالو له اوسط حد څخه 81 سلنه لوړوالی ښیي.

د فبرورۍ په 24 مه، د 4 ښځو په ګډون د ماشومانو د ګوزڼ یا پولیو کمپاین اړوند 8 تنه روغتیايي کارکوونکي په شمالي ولایتونو کندز او تخار کې د نا پېژاندو وسله والو له خوا په ډزو ووژل شول. د کندز محلي چارواکو هم ومنله چې د پولیو واکسین 7 تنه کارکوونکي په دربیو جلا بریدونو کې د نا پېژانده وسله والو له خوا د کندز په مرکز او امام صاحب ولسوالۍ کې وژل شوي دي. همدارنګه د تخار ولایت په مرکز تالقانو کې هم د واکسیناسیون ټیم یو تن ټرانسپورټي غړی ووژل شو. دغه پېښې هغه امنیتي خطرونه څرګندوي چې روغتیايي کارکوونکي د ټول هېواد په کچه ورسره مخامخ دي او له اوسنیو حکومتي چارواکو سره د واکسین د کمپاین اړوند توب له امله، میلیونونه افغان ماشومان په ګوزڼ د اخته کېدو له خطر سره مخامخېږي.[3]

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

یونیسف *د صحتمندۍ پروژې* د یوې برخې په توګه د همکارو نا دولتي موسسو(NGOs) له خوا د روغتیايي خدمتونو وړاندې کول د افغانستان 34 ولایتونو ته وغځول. د دې پروژې د جغرافیايي پوښښ پراختیا (د 2022 کال په جنورۍ کې له 17 ولایتونو څخه) په 2,214 روغتیايي مرکزونو کې د خدمتونو وړاندې کولو له دوام سره مرسته وکړه. نیږدې څلور میلیون تنه د دغو مرکزونو له لارې د اړینو روغتیايي خدمتونو تر پوښښ لاندې ونیول شول[4]. دغه راز، یونیسف د روغتیا او تغذیې د ګرځنده ټیمونو(MHNT) له لارې په لرې پرتو او هغو سیمو کې زیانمنو کسانو ته خدمتونه وړاندې کړل چې له دې مخکې ورته لاسرسی نه کېده. په فبروري میاشت کې، د روغتیا او تغذیې 137 نور ګرځنده ټیمونه هم فعال شول او په 29 ولایتونو کې یې له 73,000 څخه ډېرو کسانو ته خپلې مشورې ورسولې.

---

[1] National Disease Surveillance Report, from Ministry of Public Health, for weeks 7 and 8).
[2] WFP's Food Security Update for Afghanistan (February 2022).
[3] https://news.un.org/en/story/2022/02/1112612
[4] The Health Management Information reports for February 2022

یونیسف د دوسیې د جامع محلي مدیریت، د ټولنې پر بنسټ تغذیوي مشورې، د ځوانانو روغتیا، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي(GBV) د مخنیوي او د رواني روغتیا او ټولنیز ملاتړ په څېر موضوعاتو په برخه کې د ټولنې د 11,000 روغتیایي کارکوونکو او 108 تنو قابله ګانو د دایمي روزنې له لارې د ناروغانو د مراقبت له ښه کېدو او د خدمتونو د کیفیت له لوړېدو څخه ملاتړ ته ادامه ورکړه. له دې سربېره، په دایکندي ولایت کې د نا مشروط نغدي انقالاتو لپاره د 7,000 میندواره ښځو نوملیکنه هم بشپړه شوه او 473 تنو ښځو د میندوارۍ دورې، زېږون او له زېږون څخه وروسته مراقبتونو او هم د ماشومانو واکسین ته د لاسرسي پر وړاندې شته مالي ستونزو هوارولو د امتحاني پروژې د یوې برخې په توګه خپله لومړنې نغدي مرسته(payments) ترلاسه کړه. په فبروري میاشت کې، د 300 تنو واکسیناتورانو په ګومارنې سره له 399,000 څخه ډېرو کسانو د کووېډ-19 واکسین ترلاسه کړ، دغه راز له 67,000 څخه ډېر ماشومان د شري یا سرخکانو پر وړاندې واکسین شول او له 161,000 څخه زیاتو نوزادانو ته 3 ډول پنځه ګوني واکسینونه ورکړل شول.

## تغذیه

یونیسف او د هغه اجرایي همکارانو د روان کال په فبروري کې د ټول هېواد په کچه د خپلو روغتیایي  مرکزونو او ګرځنده ټیمونو له لارې، پر شدیدې خوارځواکۍ اخته 31,210 تنو له 6 تر 59 میاشتنیو ماشومانو(13,732 تنه هلکان او 17,478 تنې نجونې) ته ژوند ژغورونکې درملنه او 168,967 تنو میندو او سرپرستانو ته مشورتي خدمتونه چمتو کړل. د راپور ورکولو د دې دورې پرمهال، په شدیده خوارځواکۍ د اخته کسانو د ځانګړو درملیزو خدمتونو پراخولو ته ادامه ورکړل شوه. همدارنګه 220 نورو فرعي روغتیایي مرکزونو(HSCs) هم خدمتونه پیل کړل؛ په دې سره د ټولو فرعي روغتیایي مرکزونو شمېر( چې په جنوري کې 280 مرکزونه وو) 500 ته ورسېده.

په ښارونو کې د تغذیوي خدمتونو د پراختیا ستراتیژۍ عملیاتي چارې په فبروري میاشت کې تر هدف لاندې اتو ولایتونو(بدخشان، بامیان، غور، ارزګان، دایکندي، فاریاب، بادغیس او هرات) کې پیل شوې. د دغې ستراتیژۍ په چوکاټ کې به د مخنیوي او درملنې لپاره د ځانګړو سایټونو جوړولو په ګډون په ښاري مرکزونو کې د ژوند ژغورونکې تغذیې خدمتونه  چمتو شي. پر ودې، ټولنیز بدلون او سلوک(SBC) د څارنې ځانګه به را منځته او د اړتیا پر مهال د ناروغانو لپاره د بستر فضا هم پراخه شي او په کې به د ماشومانو ساتنې ځانګه(CP) او د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکۍ(WASH) برخه هم شاملې وي.

له دې سربېره، په یادو اتو ولایتونو کې د USAID/BHA تر پوښښ لاندې «د مرستو او تغییراتو معیاري څارنې او ارزنې»(SMART ) سروې ګانو لپاره چمتوالی هم ادامه لري. تمه کېږي چې د اطلاعاتو راغونډول د 2022 کال په مارچ کې ترسره شي. په فبروري کې د تغذیوي خدمتونو وړاندې کوونکو له خوا د 34 ولایتونو په روغتیایي مرکزونو کې څلور سوه ساحوي څارنیزې کتنې(field monitoring visits) ترسره شوې. د دغو ساحوي څارنو پایلې د بېلابېلو چینلونو له لارې له اړوند اجرایي شریکانو سره تربحث لاندې ونیول شوې او د پېژندل شویو ستونزو د هوارولو لپاره د ګامونو پورته کولو په تاړو هوکړه وشوه. د ښاري سمارټ سروې ګانو اطلاعاتي پایلې به په مارچ میاشت کې وړاندې شي.

د یونیسف په ګودامونو کې 48,000 کارتنه مصرف ته چمتو شوي معالجوي خواړه (RUTF ) شته دي. په ټولیزه توګه 568,201 کارتنه نور پر لارو دي چې تمه کېږي په شدیده خوارځواکۍ اخته 627,000 ماشومانو اړتیاوې به پوره کړي؛ ټاکل شوې دغه خواړه د 2022 کال د مارچ او اګسټ میاشتو ترمنځ په څو برخو او اندازو کې هېواد ته را ورسېږي. په ګودامونو کې شته مواد او دغه راز د لېږدېدلو په حال کې مواد به د 2022 کال دویمه او درېیمه ربع تر پوښښ لاندې ونیسي. له دې سره، په فبروري میاشت کې مصرف ته د چمتو شویو معالجوي خوړو(RUTF) د 40,000 کارتونو په ظرفیت سره د تودوخې د درجې کنټرولولو په امکاناتو سمبال یو لوی ګدام په کابل کې جوړ شو. په کندهار کې هم د ورته ګودام د جوړولو کار پیل شوی دی. د شدیدې خوارځواکۍ د جامع مدیریت(IMAM) ټرېننګونه له هغو 517 تنو روغتیایي کارکوونکو څخه په کار اخیستنې سره ادامه لري چې د افغانستان په مرکزي او لوېدیځو سیمو کې یې په فبروري میاشت کې روزنه ترلاسه کړې وه. د دغو ښوونیزو غونډو ټولګه به ادامه ولري او تمه کېږي چې د 2022 کال تر جون پورې شاوخوا 6,000 روغتیایي کارکوونکي وروزل شي. همدارنګه په فبروري کې 462 تنو روغتیایي کارکوونکو ته د میندو،  نوزادانو او کوچنیو ماشومانو د تغذیې په اړه روزنه ورکړل شوه. د مخنیوي او درملنې په څېر موضوعاتو په تړاو یوه داسې تلفیقي ستراتیژي تدوین او نهایي شوې چې په کې به په دواړو ښاري او کلیوالي سطحو کې د شته تشو ډکولو لپاره د مخنیوي او درملنې فعالیتونه پراخ شي.

## د ماشومانو ساتنه، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او له جنسي ځورونې او استثمار څخه مخنیوی

یونیسف او د هغه شریکانو د فبروري میاشتې په اوږدو کې،  99,583 تنو ته د ماشومانو ساتنې ژوند ژغورونکي خدمتونه وړاندې کړي؛ په دغو کسانو کې 36,314 تنه هلکان، 40,668 تنې نجونې، 12,205 تنه سړي او 10,396 تنې ښځې وې. له دې شمېرې، 72,111 تنه (54 سلنه نجونې او ښځې) د تفریحي او عامه پوهاوي فعالیتونو، د دوسیو راجع کولو او همدارنګه د ماشومانو د روغتیا او ښه ژوند په اړه د معلوماتو رسونې پیغامونو له لارې د رواني‌پوهنیزو او رواني روغتیا اړوند ملاتړ څخه برخمن شول.

له دې سره،4,807 تنه ماشومان (3,485 هلکان او 1,322نجونې) د ټول هېواد په کچه د دوسیې مدیریت له خدمتونو برخمن شوي چې په کې له کورنیو سره د 1,435 بې سرپرسته او له والدینو څخه جلا شویو ماشومانو(1,346 هلکان او 89 نجونې) یوځای کول هم شامل دي. همدارنګه له 10,323 تنو څخه ډېرو کسانو  د جنسیتي تاوتریخوالي(GBV) پر وړاندې د غبرګون، مخنیوي او خطر کمولو اړوند خدمتونه ترلاسه کړي دي.

له دې سربېره، 6,186 مهاجرو ماشومانو(2,260 نجونو) د یونیسف تر ملاتړ لاندې پروګرامونو له لارې ساتندویه خدمتونه ترلاسه کړل. 3,837 تنو ماشومانو(1,451 نجونو) ته د تودو جامو او او روغتیا ساتنې کېټونو په ګډون د ژوند ژغورونې وسایل وېشل شوي دي. یونیسف او د هغه شریکانو 9,156 تنه (1,586هلکان، 1,740 نجونې، 3,490 نارینه او 2,340 ښځې) د چاودېدونکو توکو په اړه د ښوونیزو پیغامونو تر پوښښ لاندې نیولې ترڅو د دغو

توکو له امله د مرګ ژوبلې له مخنیوي سره مرسته وکړي. دغه فعالیتونه به د راتلونکو میاشتو په لړ کې له نورو سکټورونو سره د همکارۍ له لارې نور هم پراخ شي.

یونیسف له جنسي ځورونې او ناوړه ګټنې یا استثمار څخه د مخنیوي(PSEA) پراخولو پلان عملي کولو ته ادامه ورکړه. په فبروري میاشت کې، 257 تنو کارکوونکو ته چې په کې 60 تنه د یونیسف د پروګرامونو کارکوونکي، 81 تنه د خدمتونو وړاندې کوونکي، 64 تنه د همکارو ادارو کارکوونکي او 30 تولنیز کارکوونکي شامل دي، په بشردوستانه غبرګون کې له جنسي ځورونې او استثمار څخه د مخنیوي عناصرو ځایولو لپاره د ښوونکو روزنې او ماشومانو ساتنې په اړه روزنه ورکړل شوه. له دې سره، د ټولنې 7,349 غړیو له وقایوي فعالیتونو څخه ګټه واخیسته او په خوندي چاپېریالونو کې د ښځو او نجونو لپاره د شخصي روغتیا ساتنیزو کېټونو د وېش په پروسه کې شاوخوا 400 ښځو او نجونو د راپور ورکونې د خوندي مکانیزمونو په اړه، معلومات ترلاسه کړل.

## زده کړه

که څه هم پوهنې وزارت په رسمي توګه نه دي ویلي چې د منځنۍ او ثانوي دورو ټولې زده کوونکې نجونې به بېرته ښوونځیو ته ستنې شي، خو د ولایتونو په کچه غیر رسمي چمتوالی نیول شوی دی. د مثال په توګه، په ننګرهار کې د نجونو څلور منځني ښوونځي بیا پرانستل شوي، حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پوهنې ریاستونه(PEDs) د ښځینه ښوونکو او مدیرانو پر راغونډولو بوخت دي. د محلي زده کړو ټولګیو(CBE) په تړاو، اوسمهال له 9,000 څخه ډېر محلي ټولګې شاوخوا 286,000 زده کوونکو ته زده کړې چمتو کوي. یونیسف په فبروري کې د محلي زده کړو د پراختیا لپاره د اجرایي شریکانو په ګوته کولو لومړۍ دوره بشپړه کړه ترڅو د محلي زده کړو لپاره 8,000 نور ټولګي هم پرانستل شي. تمه کېږي چې د محلي زده کړو نوي ټولګې د 2022 کال د اپریل په لومړۍ نېټه پرانستل شي.

یونیسف په فبروري میاشت کې د ټول هېواد په کچه 194,000 دولتي ښوونکو ته د بېړنۍ نغدي مرستې(100 امریکایي ډالر/ هره میاشت) وېش پیل کړ او په ترڅ کې به یې تېرې دوې میاشتې(د 2022 کال جنوري او فبروري) تر پوښښ لاندې ونیسي. د فبروري تر پایه، 113,868 تنو ښوونکو د بانکي حوالې له لارې پیسې ترلاسه کړې او د پاتې نورو په اړه اټکل دا دی چې تر مارچ میاشتې به یې ترلاسه کړي. په فزیکي توګه د ښوونکو د لېست تاییدول به د ښوونځیو د سرشمېرنې د یوې برخې په توګه د مارچ میاشتې تر دریېمې اوونۍ پورې بشپړ شي. همدارنګه، یونیسف د کابل ښار او کابل ولایت په 770 دولتي ښوونځیو کې 813,476 تنو زده کوونکو(496,220 هلکان او 317,256 نجونې) ته د 6,349,632 ټوکه درسي کتابونو وېش هم بشپړ کړی دی.

## اوبه، روغتیا ساتنه او پاکي (WASH)

یونیسف او د هغه شریکانو د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکۍ په برخو کې د خپلو فعالیتونو پراختیا ته ادامه ورکړه او 684,557 کسان یې د اړوند ضروري توکو چمتوکولو له لارې د روغتیا ساتنې عاملو خدمتونه تر پوښښ لاندې نیولي. ټولټال 93,955 تنه د روغتیا ساتنیزو توکو او 54,882 تنه د روغتیا ساتنې د ترویج فعالیتونو او خدمتونو تر پوښښ لاندې نیول شوي، د روغتیا ساتنې 93 عامونکو ته روزنه ورکړل شوې، 2,362 تنو روغتیا ساتنیزو امکاناتو ته لاسرسی پیدا کړی، 20,214 ماشومانو او 432 تنو ښوونکو ته په 11 ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکۍ لوړ کیفیت امکانات چمتو شوي دي.

د هغو ټولو ګټه اخیستونکو له ډلې چې د راپور ورکونې په دې دوره کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکۍ له فعالیتونو برخمن شوي، 549,403 تنو په کابل، پکتیا، خوست، غزنې، لوګر او پروان ولایتونو کې د اوبه رسوونکو سیستمونو د فعال ساتلو لپاره د سون توکو یا تېلو چمتو کولو او دغه راز په کابل کې د یوه جنراتور له لارې پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی. په ټوله مرکزي سیمه کې 71,353 تنو ته د روغتیا ساتنیزو وسایلو، 27,470 تنو ته د روغتیا ساتنې عامونکو خدمتونو او 81 تنو ته د روغتیایي خدمتونو د ترویج په برخو کې روزنه ورکړل شوې.

په فبروري کې، د لغمان ولایت 5,100 تنه اوسېدونکي د روغتیا ساتنې عامونکو خدمتونو او د 850 روغتیا ساتنیزو کېټونو د وېش له لارې تر پوښښ لاندې نیول شوي او د روغتیا ساتنې 12 تنه عامونکي(promoters) روزل شوي دي. په ننګرهار کې د 1,550 تنو لپاره د لاس وینځلو په امکاناتو سمبال 15 بابه عمومي تشنابونه جوړ شوي او ورپسې دغو کسانو ته د روغتیا ساتنې عاملو په اړه روزنه هم ورکړل شوې ده.

په ارزګان او کندهار ولایتو کې 26,334 تنه وچکالۍ ځپلي خلک د لېږدوونکو ټانکرونو په وسیله د څښاک له پاکو اوبو برخمن شوي او له 101,750 تنو نورو هم پاکو اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د سون توکو چمتو کولو له لارې ملاتړ شوی ترڅو د نیمروز ولایت په مرکز زرنج کې د اوبو رسوونکو سیستمونو له فعال ساتلو ډاډ ترلاسه شي. د کندهار د سپین بولدک په صفري کربښه 617 تنو راستنو شویو کډوالو ته د روغتیا ساتنې امکانات برابر شوي او 725 تنو راستنو شویو ته د روغتیا ساتنیزو موضوعاتو په اړه معلومات ورکړل شوي دي. همدارنګه په کندهار، زابل او ارزګان کې هم 13,075 تنو د روغتیا ساتنې توکي چمتو شوي او له ډلې یې 10,850 تنو ته د روغتیا ساتنې د ترویج یا عاملو په تړاو معلومات ورکړل شوي.

په هرات کې 2,306 تنو ته د روغتیا ساتنې د ترویج په اړه روزنه ورکړل شوې او په انجیل ولسوالۍ کې 518 تنو صابون او د روغتیا ساتنې اړوند کېټونه ترلاسه کړي. همدارنګه، د بادغیس ولایت په مقر ولسوالۍ کې هم 6,881 تنو ته د روغتیا ساتنې کېټونه وېشل شوي دي. د هرات، فراه، غور او بادغیس ولایتونو په 11 ښوونځیو کې د اوبو رسونې د 7 نویو سیستمونو جوړولو، د یوه سولري سیستم د بیارغونې، د 28 نویو تشنابونو جوړونې، 66 پخوانیو تشنابونو د بیارغونې او د لاس وینځلو د 8 ځایونو جوړولو له لارې ټولټال 20,214 تنه ماشومان او 432 ښوونکي تر پوښښ او ملاتړ لاندې نیول شوي دي. د اوبو رسونې د دایمي پروژو په بشپړولو سره ټولټال 7,070 تنو په بلخ او جوزجان کې د اوبو رسونې خوندي او د اقلیمي شرایطو پر وړاندې مقاومو خدمتونو ته لاسرسی موندلی. همدارنګه په بلخ ولایت کې 2,800 کورنۍ بېځایه شوي د ټانکرونو له لارې د څښاک له پاکو اوبو برخمن شوي. په بدخشان کې 2,128 تنو د روغتیا ساتنې کېټونه(hygiene kits) ترلاسه کړي او په جوزجان کې د 300 تنو لپاره 50 بابه تشنابونه روغول شوي دي.

## د ټولنې او سلوک بدلون(SBC) او د اغېزمنو شويو کسانو په اړه راپور ورکول(AAP)

شاوخوا 54,380 تنو د شديد نس ناستي يا کولرا او د کوويډ-19 د واکسين په اړه مهم پيغامونه ترلاسه کړل. د کوويډ-19 واکسين اړوند پيغامونو د واکسين د ګټو او د بېځايه شايعاتو پر ردولو تمرکز درلود. د شديد نس ناستي يا کولرا اړوند پيغامونو په کور کې د اوبو تصفيه کولو، له پاکو سرچينو څخه د اوبو پر راوړلو او د روغتيا ساتنيزو ټکو پر رعايتولو تمرکز درلود. د روغتيايي مرکزونو شاوخوا 1,300 کارکوونکو، 444 تنو د ټولنې روغتيايي کارکوونکو او 10,841 تنو ټولنيزو مخورو هم د خطر پېژندلو او ټولنيزو مشارکت د تګلارو له لارې د کوويډ-19 په فعاليتونو کې برخه واخيسته.

د سيمو په کچه شاوخوا 12,220 تنو د نظر ورکونې يا فيډبک د بېلابېلو مکانيزمونو له لارې د روغتيا ساتنې، تغذيې، د نغدو پيسو وېشلو او زده کړو په اړه خپلې اندېښنې شريکې کړې، پوښتنې يې وکړې/ توضيحات يې وکړل، خپل نظرونه او شکايتونه يې وړاندې کړل ترڅو د ناروغيو د خپرېدلو او مخنيوي په اړه د ټولنيز ګډون په غوښتو کې د دوی اړتياوې پوره شي. په دغو نظرونو او ليدلورو کې د کوويډ-19، کولرا، ډنګي تبې او شري څخه مخنيوی او واکسين منلو په څېر موضوعات شامل وو. د ټولنو له خوا په يو شمېرو مهمو اندېښنو کې د باران او ډنډونو له چټلو اوبو څخه د څښاک اوبو چمتو کول، د کوويډ-19 د واکسين لپاره د مرکزونو نه شتون، په لږه کچه د واکسين لاسرسی، په روغتيايي مرکزونو کې د درملو کمښت، د آيوډين لرونکې مالګې نه شتون، وزګارتيا او د خوراکي توکو په څېر د ځينو نورو خدمتونو غوښتنې شامل وو.

## جنسيت او د ځوانانو پرمختګ او ګډون

د راپور ورکونې په دې دوره کې، يونيسف د لومړۍ کرښې همکارانو او کارکوونکو پر ظرفيت لوړونې تمرکز درلود او ترڅنګ يې په کندهار او غزني ولايتونو کې د همکارو موسسو 193 تنو ته د جنسيتي تاوتريخوالي قضيو د مديريت او د امنيتي پلټونو ترسره کولو، د جنسيتي تاوتريخوالي د خطر کمولو، د لومړنيو رواني ـ ټولنيزو مرستو(PFA)، په خوندي او محرمه بڼه د دوسيو راجع کولو په څېر موضوعاتو په اړه روزنه ورکړه. په جلال آباد کې، 50 قابله ګانو د ښځو او ماشومانو لپاره تغذيوي او روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې د جنسيتي خنډونو لرې کولو په تړاو روزنه ورکړل شوه. له دغو فعاليتونو تمه کېدونکې پايلې دا دي چې قابله ګانې او د تغذيې په برخه کې نور فعالان د خپلې روزنې په مرسته، د جنسيتي خنډونو د کمولو او لرې کولو په اړه اړين مکانيزمونه طرحه او تطبق کړي. دغه کار به په خپل وار تغذيوي خدمتونو ته لاسرسی ډېر کړي.

معلوماتو او حياتي خدمتونو ته د لاسرسي لپاره له خوندي چاپېريال څخه د ښځو او نجونو ګټه اخيستنې ادامه لرله او په نيمروز، کابل، پروان، ډايکنډي او هلمند ولايتونو کې 13,144 تنو ښځو او نجونو دغه شان چاپېريالونو ته لاسرسی موندلی؛ په دغو کسانو کې هغه 93 ښځې او ځوانې نجونې هم شاملې وې چې په دې ډول ځايونو کې تر رواني ـ ټولنيز ملاتړ لاندې نيولې شوې او له ډلې يې 12 تنه ښځې په ډايکنډي او پروان ولايتونو کې ځانګړو حمايوي خدمتونو ته راجع شوې دي. له جنسيتي تاوتريخوالي څخه د ژغورنې خدمتونو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي د بديلو لارو پراخولو په لړ کې د هېواد په سوېلي سيمه هلمند او نيمروز ولايتونو کې د ښځو او نجونو لپاره 7 نور خوندي چاپېريالونه هم جوړ شوي. له دې سربېره، په ډايکنډي، کابل او غزني ولايتونو کې د 3,047 تنو(1,786 تنې ښځې، 1,150 تنې نجونې، 18 تنه هلکان او 93 تنه سړي) لپاره د شته خدمتونو او د راجع کولو د لارو چارو په اړه د عامه پوهاوي ناستې جوړې شوې، په بلخ او کابل ولايتونو کې د ښځو او نجونو لپاره د روغتيا ساتنې 400 کېټونه وېشل شوي دي. د شخصي روغتيا ساتنيزو کېټونو وېش هم د جنسي ځورونې او استثمار په اړه د راپور ورکونې په خوندي مکانيزمونو د ښځو او نجونو سمبالولو لپاره د يوه پيليز ټکي په توګه کارول شوی دی.

په کندهار، هلمند، نيمروز، پروان، بلخ، ډايکنډي، کندز او زابل ولايتونو کې د ټولنې له 4,689 څخه ډېر غړي(2،415 سړي، 709 ښځې، 1،316 هلکان او 249 نجونې) له جنسيتي تاوتريخوالي او د ماشومانو له ودونو څخه د مخنيوي په اړه د يوه ټولنيز بحث له لارې، د معلوماتو تر پوښښ لاندې نيول شوي. يونيسف د ماشومانو د ودونو، د ښځو د امنيتي مسايلو او دغه راز د کونډو ښځو د ميراث حق په اړه د 12 راډيويي پروګرامونو له جوړېدو ملاتړ کړی؛ دغو پروګرامونو په کندهار، هلمند او نيمروز ولايتونو کې د ټولنې کابو 31,000 غړي تر پوښښ لاندې نيولي.

## ټولنيز خونديتوب او بشردوستانه نغدي انتقالات(HCT)

د يونيسف بشردوستانه نغدي انتقالاتو(HCT) په فبرورۍ کې د افغانستان په څو نورو ولايتونو کې هم ته ادامه لرله. همدارنګه، يونيسف د ژمنې غبرګون د يوې برخې په توګه په وردګو او لوګر ولايتونو کې د نغدو پيسو انتقال ته ادامه ورکړه او پرمهال يې ټولټال 15,539 کورنيو(د 69,925 ماشومانو په ګډون 113,434 تنو) ته نغدې پيسې ووېشل شوې. په نورستان ولايت کې د بازار ارزونه بشپړه شوه او په مارکېټ کې د کافي فعاليت په اړه يې مثبتې موندنې وښودې. له دې سربېره، د نورستان او وردګو ولايتونو په اړه له وېش څخه وروسته څارنيزې سروې موندنې(PDM) ښيي چې محلي ټولنې د نغدو پيسو وېشلو طرحه غوره لار بولي. په سمنګانو ولايت کې هم له وېش څخه وروسته څارنې يوه سروې بشپړه شوه؛ دغه کار په خپل وار د يونيسف د ټولنيزو نغدي انتقالاتو د هغې طرحې په اړه ارزښتناک ليدلوري او انګېرنې وړاندې کوي چې د 2022 کال په مارچ کې پيل کېږي.

يونيسف په فبرورۍ مياشت کې د نغدي مرستو د وېش لړۍ په بادغيس ولايت کې هم پيل کړه او په ترڅ کې به يې ميندواره او تي ورکوونکې ښځې(PLW)، ښځينه سرپرستې کورنۍ او د معلولو ماشومانو لرونکې کورنيو د درېيو مياشتو لپاره د بشردوستانه نغدي انتقالاتو تر پوښښ لاندې نيول کېږي. د يونيسف غبرګون به په بادغيس ولايت کې 33,000 کورنۍ(240،900 تنه) د نغدي مرستو د وېش تر هدف لاندې ونيسي او دغه لړۍ به د فبرورۍ په پای کې د 429 کورنيو تر پوښښ لاندې نيولو سره پيل شي حال دا چې پاتې کورنۍ به د نغدي مرستو لومړۍ برخه د 2022 کال په مارچ کې ترلاسه کړي. همدارنګه يونيسف په فبرورۍ مياشت کې ډايکنډي ولايت ته هم د بشردوستانه نغدي انتقالاتو لړۍ وغځوله. په دې ولايت کې نغدي مرستې ميندواره او تي ورکوونکو ښځو ته ورکړل شوې ترڅو وکولای شي له زيږون څخه وړاندې، د زيږون پرمهال او له زيږون څخه وروسته روغتونونو ته د لاسرسي پر وړاندې شته مالي ستونزې هوارې کړي او هم د ميندو لپاره لا غوره روغتيايي پايلې ترلاسه کړي.